انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱۷/۰۶/۰۶

زمونږ ملت په دامو نو کی ګیر دی

د هندوستان په لویه وچه د انګریزی استعمار د تسلط او د منځنی اسیا په هوادونو باندی د تزاري روسي د استعماری قبضی نه او په غرب کی د فارس د واکداری له بیا رغیدو نه وروسته، افغانستان د خپل جیو پولیتیکی موقعیت له مخی، د وخت د دی ځواکونو خصوصاً د شمالی او خنوبی دواړو زبرځواکونود نابرابره فشار لاندی راغی. دی هر زبر ځواک هڅه کوله چی د افغانستان جغرافیه یا د خپل تسلط لاندی راولی او یا لا اقل په دی ملک کی داسی یو حکمران قدرت ته ورسوی چی که په منطقه کی د دوی ګټو ته استخدام نه شی نو کم له کمه خو باید دهغی په مقابل کی هم قرار ونه نیسی.

همدا علت وو، چی د ټولو نه مخکی یی د تیمورشاه تر پاچاهی وروسته د هغه د زامنو تر منځ د نفاق اور بل که، یو یی د بل سره و جنګول او زمینه یی دی ته برابره کړه چی د سدزیو له ټبر څخه د محمدزیو ټبر ته سلطنت ور واړوی او بیا د محمدزیو په ټبر کی داسی کسان د قدرت نیولو ته په لاس کی ونیسی چی اصلاً په دی ونه پوهیږی چی ملت څه ته وایی او ملی ګټی کومی دی؟ زه نه غواړم په دی برخه کی په ډیرو جزئیياتو خبری وکړم، ځکه دا تاریخي ځیرنه ده او ځیرل یی ډیر کارته اړتیا لری. خو دومره باید و وایم چی د شاه شجاع نه رانیولی (دغازی امان الله خان او قسماً د محمد ظاهرشاه نه پرته) بیا تر ننني جمهور رئیس محمد اشرف غنی پوری افغانستان د داسی یوه زمامدار، ټولواک او مشر خاوند نه شو چی د هغو هیوادونو د سیاسی، اقتصادی او نظامی تاثیراتو په دام کی د ښکیل کیدلو نه ځان و ساتلی شی چی د هغوی ګټی ور سره تړلی دی.

مونږ ولیدل چی د انګریزی استعمار له خوا د هندوستان تر آزادۍ وروسته د پاکستان د دولت په جوړیدو او بیا د دی نوی مزدور دولت او د ایران د امریکای ژندارما دولت را شریکول په نظامی پکتونو کی او د جنوب په لور د وخت د شوروی اتحاد د مخنیوی وظیفه سپارل دایران شاهی رژیم او د پاکستان مزدور رژیم ته، څنګه افغانستان د دوی له پامه و غورزاوه او د محمدظاهرشاه د سلطنت په ټوله دوره کی یی د افغان ولس سره د پاکستان او ایران د دولتونو په زرمه برخه یو ډول مرسته هم ونه کړه، او افغانستان یی له هره حیثه تقریباً په مکمله توګه له یاده و ویسته.

مونږ دا هم ولیدل چی د شوروی اتحاد د یرغل او د افغانستان د ټول هیواد د اشغال نه وروسته، د سرمایی نظام په مجموع کی او ددی کمپ مشر د امریکا د متحده ایالاتو دولت، په څه چلونو، نیرنګ او د پیسو په زور، د پاکستان،

ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

ایران، سعودی عربستان او نورو لاس پوڅو هیوادونو په مستقیمو او غیر مستقیمو همکاریو سره د افغان مقاومت مشران په خپلو لومو کی را گیر گړل او لکه د شادی گانو په څیر یی په هر میدان کی و گډول؟
دا هم زمونږ تر مخ تیر شول چی هماغه جهادی مشران چی دوی جوړ کړی وو، څنگه یی یو د بل په مقابله کی ودرول او څنگه یی د شوروی د ماتی نه وروسته بیا د فراموشی کندو ته ور وغورزول، څنگه یی د ټول وطن مادی او معنوی شتمنۍ ور باندی لوټ تالان کړلی، څنگه یی د قومی، سمتی، ژبنی، سیاسی، مذهبی اونورو وړو جزیرو په زندانونو کی ور دننه کړل او څنگه یی د دوی ټول ویاړونه د خاورو سره خاوری کړل؟؟؟
دا هم زمونږ له نظره تیر شول چی څنگه یی د دوی او د نورو مظلومو مهاجرو او لادونه له دوی نه بیل او د تعلیم د زده کړی په نوم یی د دیوبند د مغز پریمنځلو په مرکزونو (مدرسو) کی ورشامل کړل، اویا یی په ایران کی د ایله جارانو په توگه د عراق او سور یی جگړو ته ور ولیږل او بیایی د همدوی په وړاندی د طالبانو د لښکر تر نامه لاندی وسله وال کړ او د دوی تسلط یی ور باندی ختم کړ؟؟
دا ننداره هم زمونږ تر مخ تیره شوه چی کله طالبانی وحشت چی د یاغیتوب مرحلی ته رسیدلی و، بیا یی د دوی کمپله په څه توگه او د کومو بهانو په جوړولو ور ټوله کړه او خپلی نیغی مداخلی ته یی لاره پرانستله؟ خود طالبانو په سقوط سره یی یو ځل بیا دا ملک د هماغو وسله والو غلو او په خپله لمنه (غرب) کی د روزل شویو تکنوکراتانو منگولو کی را گیر کړ او د داسی فساد جوړولو لاری ی ورته ور وښولی چی حتی شیطان هم ور باندی نه پوهیده.
او بلاخره دا هم گورو او لا به نوری نخری هم و وینو چی هماغه د بمونو په زور د قدرت نه شړل شوی او د سیاسی لوبو نه ناخبره، ساده او ناپوهه طالبان یی بیا څنگه د انگریزی پاکستان د جاسوسی د سازمان په لاس کی ور کړل او په دی هیواد کی د خپل دایمی حضور د لرلو د پاره یی په (بُن) کی د خپل لاس پوڅی دولت د بی ثباته کولو د پاره تری کار واخست؟؟ او نن یی د داعش په نوم نوی لاس پوڅی پیدا کړی او پاکستان یی د هغوی په تمویل او تکمیل مکلف کړی او لیونی طالبان یی د ایران، روس او چین غیږی ته ور اچولی دی.
د دی ټولو ناخوالو په لیدلو او په غړولو سترگو د افغان ولس د ټولنیز ژوندانه د تخریب د پاره د هلو ځلونه داسی نتیجه را وځی چی :
۱ ـ افغانستان د هسی یو موقعیت لرونکی دی چی که هر زبرځواک کی یی د خپل کنترل لاندی راولی په اسانی سره کولی شی چی مقابل لوری ته د ورکاوی تر پولی خطرات و زیږوی.

۲ ـ د دی سیمی اصلی او سیدونکی (افغانان) د دی زبرځواکونو له نظره د دی وړتیا نه لری چی ددی ستراتیژیکی منطقی کنترول په لاس کی ولری.

۳ ـ افغانان داسی خلک دی چی په دوی باندی نیغ په نیغه تسلط یا نا ممکن او یا هم ډیر سخت دی، نو له همدی کبله غربی انترپالوجستان دی نتیجی ته رسیدلی چی په دوی باند د تسلط لرلو د پاره ډیره ښه طریقه همد ا ده چی ددوی د ذاتی بی اتفاقی نه گټه او چته شی او دوی په خپلو منځونو کی په جنگ وا چول شی.

۴ ـ افغانان له یوی خوا نادار او له بلی خوا بی تعلیمه دی، دوی بیلو بیلو ایتنیکی گروپونو ته منسوب دی، ټول د قدرت لرلو سره ډیره مینه لری، ټول خوشباوره دی، ټول د پیسو او وسلو مینه وال دی، ټول په اسانی سره تطمیع

کیدلی شی او بلاخره ټول پوره یومن دی ،نیمنی او نیم سیری پکی نشته، ټول په هره برخه کی افراطی افکار لری، نو په دی توگه دوی په اسانی سره د ښکار یانو د ښکار په لومو او دامونو کی گیریدلی او د لاس په آلی بدلیدلی شی.

۵ ـ دا او دی ته ورته نور علتونه شته چی په ټول کی زمونږ ملت او ځانگړی توگه د دی ملت قومی، مذهبی، سمتی او سیاسی مشران او رهبران ټول د پردیو په لومو او دامونو کی راگیر شویدی او د ټولو نه یو ډول د دوی د خپل ځان په اسارت، ذلت، بربادی او د خپل وطن په خرابۍ کی کار اخستل کیږی او د دوی غرنی ، د طبعی منابعو نه ډک او د حساس جغرافیه وی موقعیت لرونکی ملک له یوی خوا د ټولنیز فساد په گندگیو کی ور ډوبیږی او له بلی خوا ورځ تر بلی، د ټوټه کیدو په لار گړندی گامونه پورته کوی.
اوس د دی ټولو ناخوالو د له منځه وړلو د پاره یواځنی موجوده لار د همدی نیم ژواندی ملک د روشنفکرانو، پوهانو او ځوان نسل د یو والی او د ملی سترو گټو د ساتنی د پاره د اتحاد را منځ ته کیدل دی چی باید ژر تر ژره را منځ ته شی او که دا کار هر څومره شاته کیږی په هماغه اندازه ز مونږ د تخریب او نابودی شیبی را نزدی کیږی او مونږ د نوو دامونو په نوو لومو کی بندیږو.

هیله من یم چی ټول د نظر خاوندان په دی هکله ژور فکر وکړی او د افغان ولس د نجات د پاره د یوالی د ټولو لارو نه گټه اوچته کړی. د آزاد او سر لوړی افغانستان په هیله.

پای